# د افغانستان په ملي قدرت باندې د اغېز لرونکو جغرافيايي عواملو پېژندنه

ليکوالان: پوهنيار فياض ګل مظلوم يار او پوهنمل بلال بدلون
دننګرهار پوهنتون استادان

**لنډيز**

ټولې مادي او معنوي وړتياوې چې په يوټاکلي جغرافيايي او سياسي قلمرو کې شتون لري، ملي قدرت ورته ويل کيږي. ملي قدرت بېلابېلې سرچينې او بنسټونه لري چې په ټوله کې د ملي قدرت عناصر ګڼل کيږي. د ملي قدرت موضوع د جغرافيه پوهانو، جيوپوليټيک متخصصينو، سياسي جغرافيې، سياسي علومو او نړيوالو اړيکو، استراتژيستانو او سياستمدارنو د پاملرنې وړ ګرځېدلې چې هرې ډلې د ملي قدرت لپاره بېلا بېل عناصر معرفي کړي دي. د جغرافيه پوهانو او نورو متخصصينو په نظر په ملي قدرت باندې د بنسټيزو اغيز کوونکو عواملو له جملې څخه يو هم جغرافيايي عوامل دي. افغانستان په اسيا کې د ځانګړې جغرافيايي موقعيت په درلودلو سره توانيدلی شي غوره ملي قدرت ولري. افغانستان د سيمې ددرې مهمو جيوپوليټيک، فرهنګي او اقتصادي حوزو په منځ کې قرار لري. د افغانستان سويل او ختيز د سويلي اسيا سره، شمال يې د مرکزي اسيا سره او لويديز يې د ايران سره د ترلو مهمې نقطې دي. پدغه علمي مقاله کې د ملي قدرت د عناصرو او زېرمو په اړه د مختلفو پوهانو نظرونه راخستل شوي. په ياده علمي مقاله کې په ملي قدرت باندې د جغرافيايي عواملو په اغيزو ډېر تاکيد شوی، دغه علمي مقاله کتابتوني بڼه لري. دمقالې ليکلو اصلي موخه د ملي قدرت د عناصرو او زېرمو پيژندلو ترڅنګ د افغانستان په ملي قدرت باندې د جغرافيايي عواملو اغېزو ته کتنه شوې ده چې په تمامه معنی يې د افغانستان ملي قدرت اغيزمن کړی دی. د څېړنې پايلې ښايي چې د افغانستان په ملي قدرت باندې جغرافيايي عواملو لکه [illegible] منځ [illegible]، [illegible] ختيځې، لويديزې او سويلي اسياد ترلو په توګه افغانستان خپل ارزښت [illegible] کړی دی. [illegible] افغانستان نه دی توانيدلی چې له دې غوره جغرافيايي موقعيت څخه د ملي قدرت په لوړيدو کې د پام وړ ګټه وکړي.

**کليدي کليمې**

جغرافيه، قدرت، ملي قدرت، جيوپوليټيک، جغرافيايي عوامل، موقعيت، سيمه ايز ترون

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سریزه

د ټولنیزو علومو هره څانگه یو له بل سره نه بېلدونکې اړیکې لري. کله چې د دولت د متشکله عناصرو په اړه بحث کوو نو ویل کېږي چې دولت له څلورو بنسټیزو عناصرو( قلمرو، نفوس، حکومت او ملي حاکمیت) څخه تشکیل شوی دی. د قلمرو د حدودو پېژندل، د قلمرو په داخل کې د طبیعي سرچینو پېژندل، د هغې څخه گټه اخستل او د حکومتولۍ په چارو کې د قلمرو پر اړونده مسایلو پوهیدل او ترې گټه اخستل یو مهم بحث دی. څکه د یو دولت د قدرت د متشکله عناصرو څخه مهم عنصر جغرافیایي عوامل گڼل کېږي چې په دې علمي مقاله کې هم لومړی د ملي قدرت جغرافیایي عواملو په اړه بحث کېږي او په دویم قدم کې د افغانستان په ملي قدرت باندې د اغیز لرونکو جغرافیایي عواملو پر پېژندنه او څرنگوالی بحث کوو.

قدرت د هغه عواملو څخه عبارت دی چې په شتون سره یې یو لوبغاړی په دې توانیږي ترڅو د نورو لوبغاړو گټې او لومړیتوبونه د خپل کنترول او نفوذ لاندې راولي. په دې اساس لوبغاړي کیدی شي چې حکومتونه، ملتونه، هېوادونه او یا نورې ډلې وي چې د یو څانگړی کړنې په واسطه او یا د نورو نفوذ لاندې کړنو د مخنیوي لپاره کړنې سرته رسوي (کامران او نور:۱۳۸۹: ۲). د هر هېواد ثبات او امنیت د هغې د ملي قدرت د کچې پورې اړه لري. د یو هېواد د ملي قدرت کمزوري د هغه هېواد دننه او د سیاسي پولو څخه دباندې ملي گټې په خطر کې اچوي. دا په داسې حال کې ده چې ملي قدرت یوازې په پیاوړي فوځ او پرمختللو اسلحو باندې لاسته نه راځي بلکې هر اړخیزه پرمختگ او په ټولو ټولنیزو، صنعتي، سوداگریزه، سیاسي، اقتصادي او فرهنگي برخو کې دتوازن ساتل مهم دي. یا په بل عبارت قدرت یوازې یو سیاسي عنصر نه دی، بلکې د یو هېواد ټول مادي او معنوي سرچینو برابروالی او ترتیب والی دی ( حیدری و حیدری بنی، ۱۳۹۳: ۲۱). ملي قدرت د جیوپولیټیکي مفهوم په توگه د خلکو او ملتونو څانگړنې او صفتونه منعکس کوي (کامران او نور:۱۳۸۹: ۲). هېوادونه د بېلا بېلو موخو لکه: خپلواکي، ځمکنۍ بشپړتیا، ملي امنیت، د خلکو هوساینې، د خلکو د باور زیاتولو، سولې او ثبات د ساتلو یا د هر هغه څه لپاره چې په ملي گټو پورې تړاو لري. همدارنگه کیدی شي یو دولت هغه وخت د خپل وضعیت ساتل، د خپلې ستراتیژۍ په توگه وټاکي او څینې وخت یې لومړیتوب ته بدلون ورکړي، خو په دواړو حالاتو کې د قدرت د بېلابېلو بڼو څخه گټه اخلي ( ویاړ او بدلون،۱۳۹۷: ۹۹). د افغانستان جیوستراتیژیک، جیوپولیټیک، جیواکونومیک فرصتونه او د ملي قدرت غوره جغرافیایي

(c) ketabton.com: The Digital Library



عواملو شتون په افغانستان کې روانه جگړه، ناامني، د نشه يي توکو کښت، قاچاق، سازمان شوي جرايم، بې اعتمادي، سرحدي شخړې، په سيمه کې د بحران او بې ثباتۍ د لمنځه وړلو سبب کيدی شي. په هغه صورت کې چې په اغيزمن ډول ترې کار واخستل شي.

افغانستان د اسيا د زړه او څلور لارې په توگه د ډېر پخوا وختونو راهيسې يې د سيمې د هېوادونو ترمنځ د پله حيثيت درلود. افغانستان د سيمه ييزو همکاريو د پراختيا او د سيمه ييزو سازمانونو د پياوړتيا په صورت کې کولی شي له خپل غوره جغرافيايي سرچينو څخه په سمه توگه گټه وکړي. افغانستان ددې ظرفيت او وړتيا لري چې د سيمه ييزو همکاريو په ميدان بدل شي او د سيمې د هېوادونو ترمنځ د همکاريو د پراختيا په برخه کې مهم رول تر سره کړي (احمدزی، ۱۳۹۹: ۸).

د جغرافيې علم د بشر د ژوند د طبيعي چاپيريال څخه بحث کوي. څرنگه چې جغرافيه د ژوندانه چاپيريال دی نو د يو هېواد جغرافيايي جوړښت په بشري خويونو، عاداتونو، کلچر او سلوک باندې اغيز لري (بصيرت،۱۳۹۴: ۲۱). د افغانستان تاريخ او جغرافيه دواړه ددې حقيقت ښه ثبوت دی. د لوی سکندر څخه ترمغلو، فرنگيانو، شورويانو او نورو لويديز يرغلگرو په مقابل کې د افغانستان د غيور قوم نه ماتيدونکی مقاومت، مبارزه او دښمن ته غاښ ماته ونکی، ماتې ورکول هغه جغرافيايي لورينې پايله ده چې الله پاک دې ملت ته ورکړې ده (بصيرت، ۱۳۹۴: ۲۱).

د افغانستان ارزښت تر ډېره د افغانستان د غوره جغرافيايي موقعيت څخه سرچينه اخلي. په اصل کې افغانستان د منځنۍ، لويديزې او سويلي اسيا ترمنځ د تړلو نقطه ده. د هېواد په شمال کې پريمانه طبيعي سرچينې لکه: انرژي، گاز، بريښنا، نفت او داسې نور شتون لري. په سويل او ختيز کې هند او پاکستان چې يادو سرچينو ته پراخه اړتيا لري، واقع دي. دغه موقعيت د افغانستان لپاره په جيوپوليتيکي، جيواکونوميکي او جيواستراتيژيکي توگه د ارزښت وړ دي. د ملي قدرت د عواملو له جملې يواځې جغرافيايي موقعيت نه بلکې ډېر نور عوامل دي چې په سيمه کې د افغانستان د ملي قدرت د پياوړي کېدو لپاره اغيزمن واقع کيدلی شي. دا چې د ملي قدرت دغه سرچينې د افغانستان لپاره څومره دارزښت وړ دي او د هېواد لپاره کوم فرصتونه رامنځ ته کولی شي، په دې علمي مقاله کې پرې بحث شوی دی. په دې مقاله کې څېړونکو لومړی د ملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



قدرت سرچینې، ورپسې یادې سرچینې په سیمه کې د افغانستان په ارزښت او په تېره بیا د ملي قدرت سرچینې چې په سیمه کې د افغانستان ارزښت ثابتوي، روښانه کړې دي.

## د څېړنې موخې

- د افغانستان د ملي قدرت د جغرافیایي سرچینو پېژندل.
- د افغانستان په ملي قدرت باندې د جغرافیایي عواملو اغیزو پېژندل.

## د څېړنې پوښتنې

- د یو هېواد لپاره ملي قدرت کوم ارزښت لري؟
- د مختلفو پوهانو د نظریو په اساس د ملي قدرت بنسټیز عوامل او عناصر کوم دي؟
- د افغانستان په ملي قدرت باندې اغیز لرونکي جغرافیایي عوامل کوم دي؟

## د څېړنې مواد او کړنلاره

ددې مقالې دلیکنې او څېړنې بڼه کتابتوني ده،چې په اړه یې ګڼ شمېر معلومات له داخلي او بیروني کره سرچینو، معتبرو او نویو اثارو، مقالو او انټرنیټ پاڼو څخه راټول او د مقالې په مناسبو ځایونو او بیلا بیلو پراګرافونو کې په سیستماتیک ډول ځای په ځای شوي دي.

## د څېړنې لاسته راوړنې

## د ملي قدرت سرچینې


د کله راهیسې چې د ملي قدرت موضوع د جغرافیه دانانو، د جیوپولیټیک متخصصینو، سیاسي جغرافیې، سیاسي علومو او نړیوالو اړیکو، استراتژیستانو، سیاستمدارانو او حتی د نظامیانو د پاملرنې وړ ګرځېدلې، هرې ډلې کوښښ کړی، ترڅو په ملي قدرت باندې د اغیز لرونکو عواملو بیلابېل عناصر وړاندې کړي، اما دا ګډه ستونزه په مطلوبې شکل تراوسه حل شوې نده (زرقانی،۱۳۸۹: ۱۵۲). بیا هم په ټولیز شکل کولی شو چې: اقتصادي، جغرافیایي، سیاسي، حکومتي، فرهنګي، ټولنیز، ځمکني، نظامي، علمي، ټکنالوژیکي، نړیوال او فضایي عوامل او فکتورونه د ملي قدرت دزېرمو په توګه یاد کړو (زرقانی،۱۳۹۱: ۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د ملي قدرت عناصرو او زېرمو په اړه د پوهانو نظرونه

د نړیوالو اړیکو او سیاسي جغرافیې پوهان د ملي قدرت د عواملو په اړه بیلابیل نظرونه ورکړي. مونتیسکو ملي یووالی د ملي قدرت تولید کوونکی عامل ګڼي. کوهن بیا لسو عواملو ته اشاره کړې. په ټولیزه توګه څېنو پوهانو بیا لاندې عوامل (۲.شکل) د ملي قدرت لپاره اړین بللي دي ( حیدری و حیدری بنی، ۱۳۹۳: ۲۲).




۱.شکل دملي قدرت سرچینې او بنسټونه ( حیدری و حیدری بنی، ۱۳۹۳: ۲۲).

جلیل روشندل د ملي قدرت عواملو څخه په لاندې توګه یادونه کړې.

- جغرافیایي عوامل: اوبه او هوا ، ځمکنی موقعیت، پراخوالی، خام مواد
- بشري عوامل: د وګړو شمېر، د وګړو ترکیب یا جوړښت، د وګړو څرنګوالی
- فرهنګي عوامل: فرهنګي میراث، ملي یووالی او ایډیالوژي
- د حکومت جوړښت: د حکومت سیاسي شکل، دحکومت اغیزمنتوب ( مایل افشار، ۱۳۹۱: ۱۱۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



هانس جي مورګنتا د ملي قدرت بنسټیز عناصر په اتو برخو ویشلي چې د جغرافیايي موقعیت، وګړي، صنعتي وړتیا، طبیعي زېرمې، ملي روحیه، ملي ځانګړنې، نظامي امادګي او د ډیپلوماسۍ ځرنګوالي څخه عبارت دي (کاظمي، ۱۳۸۲: ۲۷).

د شلمې پیړۍ په ځانګړي ډول د سړې جګړې په دوران کې د قدرت جوړولو عوامل په لاندې ډول ښودل شوي دي:

۱. د ځمکې پراخوالی، جغرافیايي او سوق الجیشي ځرنګوالی، د پولو جوړښت او ځرنګوالی، د خاورې وضعیت او پراخوالی، لوړې ژورې، اوبه او هوا چې هېواد په کې قرار لري.
۲. نظامي آمادګي: د یو هېواد ټول قدرت د هغې دنظامي قدرت سره مساوي دی چې جګړه او اختلاف حل کوي. په دې اساس هر هېواد چې پیاوړی فوځ ولري هغه ډېر قدرتمند دی.
۳. د وګړو شمېر: په دې باور چې د نړۍ اکثره قدرتمند هېوادونه ډېر وګړي لري، داسې ښکارندوی یې کوله چې هر هېواد چې نفوس یې زیات وي، قدرت یې هم زیات دی.
۴. طبیعي زېرمې: غذايي او خامو موادو له اړخه په ځان بسنه.
۵. نژادي یوشانتې والی.
۶. ایډیالوژي (رضایي و صارمی، ۱۳۹۰: ۱۷).

هادي اعظمي د خپلې دوکتورا په رساله کې د ملي قدرت عوامل اوه فکتورنه ذکر کړي چې: د اقتصادي، ځمکني، حکومتي، علمي، ټولنیز، فرهنګي او نظامي عواملو څخه یې یادونه کړې. یاد هر فکتور د څو متغیرونو څخه تشکیل شوی دی (زرقاني، ۱۳۸۹: ۱۷۲). یاد عوامل په ۱.جدول کې په تفصیل سره ښودل شوي دي.

سیدعباس نبوي په خپل کتاب د قدرت فلسفه کې لیکي چې: چې په ټولیزه توګه کولی شو د قدرت زېرمې په درې ډلو کې ډلبندي او وپیژنو. لومړی طبیعي زېرمې او هغه څه چې د انسان د قدرت لپاره طبیعت د انسان په واک کې ورکړي. دوهم بشري زېرمې او هغه چې د انسان دننه او بشري ټولنې د قدرت د تولید لپاره کاروي. دریم دطبیعي زېرمو ور اخوا او هغه څه چې د طبیعت او انسان د سیاسي قدرت په تولید او ټولنیز قدرت کې اغیزمن دي. (کامران او نور: ۱۳۸۹: ۱۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱:جدول: د ملي قدرت په اندازه کولو باندې د موثرو عواملو او متغیرونو نوملړ (اعظمی،۱۳۸۵: ۱۲۲).

| ګڼه | د عامل نوم | متغیر |
| --- | --- | --- |
| ۱ | اقتصادي | کلنۍ سوچه ګټه، سوداګریزه برابري، د ریل خطونه، اسفالت شوې لارې، د تورزیم څخه لاسته راغلې ګټه، د بیکارۍ کچه، د کشتیو شمېر، نړیوالې ذخیرې، د GDP اندازه. |
| ۲ | ځمکني | په کیلومتر مربع پراخوالي کې د وګړو شمېر، نسبي ګڼوالی، د اوربند کلنۍ اندازه، د ځمکې شکل، نسبي موقعیت، دبندرونو او هوایي میدانونو شمېر، د نفت او ګاز بالقوه ذخیرو اندازه، د اوبیزې برېښنا د تولید اندازه، ستراتژیک معادن، د اوبیزو پولو اوږدوالی، د اوبو کلنۍ اندازه... |
| ۳ | حکومتي | د ټولو وګړو په نسبت د پایتخت د وګړو شمېر، د نورو هېوادونو په پرتله په خپل هېواد کې د پناه ورکوونکو شمېر، دکودتا ګانو شمېر، ټول ټاکنې، په قومي او نژادي اساس ملي یووالی، په دیني او عقیدتي لحاظ ملي یووالی.... |
| ۴ | علمي او ټکنالوجي | دپوهنتونو شمېر، دمحصلینوشمېر، دپرمختګ او څېړنې په برخه کې د څېړونکو شمېر، دعلمي مجلو شمېر، د علمي مقالو شمېر، په داخلي تولید او څېړنه کې د ناخالص مصرف اندازه، یورانیمو غني کولو ته لاس رسی، د علمي کتابونو شمېر... |
| ۵ | ټولنیز | د وګړو شمېر، د ژوند امید، مړینې او زیږیدنې کچه، روغتیایي خدماتو د لاس رسي وګړو اندازه، د هغه وګړو شمېر چې ډاکترانو ته لاس رسی لري، روغتونونو ته لاس رسی، کلنۍ روغتیایي بودیجه، د پاکو اوبو ته د وګړو د لاس رسي اندازه، دماشومانو د زیږیدنو پروخت دمیندو دمړینو شمېر، د پرمختیایي هېوادونو په لیست کې د هېواد رتبه، د ۱۵ کاله څخه پورته د باسوادو افرادو شمېر..... |
| ۲ | فرهنګي | د خپرو شویو ورځپاڼو شمېر، د هر زر کسو پر سر د ورځپاڼو شمېر، د توریستي ځایونو شمېر چې د یونسکو په واسطه پیژندل شوي وي، د هرو زرو کسو پر سر د راډیوګانو شمېر، د هر زر کسو څخه انټرنیټ ته لاس رسی، د هر زر کسو څخه کمپیوټر زده کړو ته لاس رسی، د هر زر کسو پر |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| | | سر د تلویزونونو شمېر، د هرزر کسو پر سر د تلیفونونو شمېر، د GDP څخه د ښوونې او روزنې مصرف اندازه... |
| ۷ | نظامي | د سرتیرو شمېر، د ټولو وګړو په پرتله د نظامیانو شمېر، نظامي بودیجه، دفاعي بودیجه، هستي ای موادو ته لاس رسی، د جنګي تیارو شمېر، دهیلوکپترونو شمېر، د سمندري لامبوزنو شمېر، د هوایي فوځ شمېر، د سمندري قواو شمېر..... |
| ۸ | نړیوال | په نړیوالو سازمانونو اوکنوانسیونونو کې ګډون، دخارج څخه د راغلو تلیفونونو شمېر، د هواي الوتکو د پروازونو شمېر، د راغلو توریستانو شمېر، په هرو سل کسو کې د یوکال په اوږدو کې دخارج شویو مسافرو شمېر... |

مایل افشار په خپله مقاله کې د قدرت عمده زېرمې په دوه کټګوري (حس کیدونکي او نه حس کیدونکي) ویشلې:

۱ـ حس کیدونکي زېرمې: جغرافیه، د خاورې پراخوالی، ملي او اقتصادي زېرمې، نظامي قدرت او نفوس.

۲ـ نه حس کیدونکي زېرمې: د ملي حکومت رهبري او ځرنګوالی، دملي موخو د لاسته راوړلو لپاره ځانګړې اراده، د نظم او دسپلین روحیه، لیاقت او کیفیت، د دولت د یووالي بالقوه وړتیا، د خلکو په منځ کې د سیاسي پوهې کچه (مایل افشار،۱۳۹۱: ۱۱۳).


ابراهیم طاهري د ملي قدرت لپاره سخت او نرم عواملو ته اشاره کړې چې د هغې له جملې څخه د ملي قدرت سخت عواملو څخه په لاندې توګه یادونه کړې.

- قدرت او نظامي وړتیا.
- اقتصادي پرمختګ او وړتیا، صنعت او تکنالوژي.
- ځمکنۍ پراخوالی، جغرافیایي موقعیت، اب وهوا، توپوګرافي، سیاسي پولو په ګډون جغرافیایي ځرنګوالی.
- طبعي زېرمې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



- د وګړو کیفیت او پرمختللې بشري قوه (طاهر، ۱۳۹۵: ۱۲۲)




۲. شکل د قدرت د عواملو خپل منځي اړیکه (زرقانی، ۱۳۸۸: ۱۳۹).

## د ملي قدرت د عامل په توګه د جغرافیې ارزښت

پرته له شکه د یو ملت د قدرت باثبات ترین عامل د هغه هېواد جغرافیه ده. جغرافیایي عوامل لکه: پراخوالی، شکل، موقعیت، جغرافیایي ځرنګوالی، ناواري، د اوبو زېرمې، نباتي پوښښ، اقلیم او داسې نور د ملي قدرت سره سیده اړیکه لري. په قرانکریم کې هم څو ځایه د جغرافیایي ځانګړنو (ځمکې) د بشري قوت او ګټې اخستنې لپاره اشاره شوې. همدارنګه غرونه، لارې، سیندونه.... د یو الهي نعمت په توګه معرفي شوي دي (اعظمی، ۱۳۸۵: ۱۲۹). بعضي پوهان جغرافیایي موقعیت د همغه هېواد لپاره د ملي قدرت اصلي رکن ګڼي. ځیني لږ نور هم مخکې تللي او وایې چې د هر هېواد سیاست د هغه هېواد د جغرافیې په واسطه ټاکل کیږي (کامران او نور: ۱۳۸۹: ۱۰). د دوی په اند د هر هېواد جغرافیایي موقعیت د هغه پوځي او اقتصادي سیاست او سیاسي لید تر اغیز لاندې راولي. (ویاړ او بدلون، ۱۳۹۷: ۷۸). سیاسي پېښې هر وخت په یوه ټاکلي جغرافیایي سیمه کې واقع کېږي او بې له شکه چې جغرافیایي عوامل لکه: د خاورې پراختیا، موقعیت، اقلیمي شرایط او طبیعي ځانګړنې پر ملي قدرت اغیز کوي. دا د نورو عواملو لکه: د اقتصادي قدرت، د صنعتي پرمختګ کچې او انساني سرچینو د څرنګوالي ترڅنګ کولی

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي، د نورو هېوادونو پر وړاندې د یوه هېواد د پیاوړتیا یا کمزورۍ لامل شي (ویاړ او بدلون، ۱۳۹۷: ۷۸).

## د افغانستان په ملي قدرت باندې اغیزلرونکي جغرافیایي عوامل

د افغانستان جغرافیایي ځانګوالی او تاریخي جریانانونو ته په پاملرنه افغانستان یو له هغه هیوادونو څخه دی، چې د بل هر اغیز کوونکی عامل په پرتله د افغانستان په ملي قدرت باندې جغرافیایي عوامل کلیدي اغیز لري.

د افغانستان اقلیم، سره شاره طبیعي سرچینې، کرهنیز محصولات، قیمتي ډبرې، لاجورد، زمرود، رواني اوبه، د سویلي اسیا او منځنۍ اسیا ننبلونکی رول، د ځمکې لاندې طبیعي سرچینې... هغه څه دي چې د افغانستان په ملي قدرت باندې یې اغیز بیخي په روښانه توګه څرګندوي. دا چې نن ورځ افغانستان د ملي قدرت د محاسبې له پلوه په ټېټه کچه کې قرار لري، تر ټولو عمده دلایل یې دا دی چې افغانستان نه دی توانیدلی چې د دې جغرافیایي عوامل څخه ګټه وکړي. د افغانستان ارزښت د دې هیواد له جغرافیایي موقعیت څخه سرچینه اخلي.

د افغانستان په ملي قدرت باندې د لاندې اغیز لرونکو جغرافیایي عواملو څخه یادونه کوو:

## ۱.شکل

هغه عامل چې د هېوادونو په سیاسي سرنوشت کې مهم رول لري، د هېواد هندسي شکل دی. د هندسي شکل څخه موخه د یو هېواد د قطر څخه د مرکز پر لور واټن دی. د هندسي شکل مهم اغیز د هېواد په کچه د مرکزي حکومت د قدرت په پلي کولو دی (عزتي، ۱۳۹۰: ۹۱). د هېواد هندسي شکلونه د راټول، اوږده، لکه لرونکي، ټوټه ټوټه او په بل هېواد کې د راګیر شکلونو څخه عبارت دي (اعظمی، ۱۳۸۵: ۱۳۰). د شکل له مخې افغانستان د واخان د دالان له کبله لکۍ لرونکو هېوادونو په ډله کې شمېرل کیږي. افغانستان د دغې دالان په واسطه د ختیزې اسیا سره پیوند پیدا کولی شي. همدا رنګه دغه سیمه چې لوړوالی یې ۲ زره متره ته رسیږي، د یخ او واروې له کبله د امو سیند لپاره غوره سرچینه ګڼل کیږي (رحیمي، ۱۳۹۲: ۱۰۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲.ناهمواري (نابرابري)

ارتفاع یا لوړوالی یو بل طبیعي عامل دی چې تر یو حده د هېواد په سیاسي سرنوشت کې مهم رول لري (عزتي،۱۳۹۰: ۹۰ ). که چېرې د هېواد لوړوالی د سیاسي کرښو سره یو شان شي نو د دفاع لپاره ځانگړې شرایط رامنځ ته کوي. همداشان لوړه ارتفاع کولی شي د یخونو څخه د جاري شویو اوبو له مخې د یو هېواد داخلي اقتصاد ته پیاوړتیا ورکړي (اعظمی،۱۳۸۵: ۱۳۰-۱۳۱). د ځمکې لوړوالی د ځمکني حرکت د سستوب او په ارتباطي شبکو کې د محدودیتونو سبب گرځي، چې دا په اقتصادي او تولیدي اړخ باندې سیده اغیز لري (عزتي،۱۳۹۰: ۹۰ ). افغانستان یو غرنی هېواد دی چې د توپوگرافیکي وضعیت له پلوه اکثرا په غرونو پوښل شوی دی (مظلوم یار،۱۳۹۸: ۵۷ ). دغه غرونو په نظامي او دفاعي برخه کې د افغانستان لپاره د تاریخ په اوږدو کې زیات ارزښت درلودلی دی (رحیمي،۱۳۹۲: ۱۰۲ ). د نړۍ سیاسي نقشې له مخې د افغانستان موقعیت ته که وگورو، افغانستان د اسیا په منځنۍ برخه کې د مرکزي اسیا او سویلي اسیا د یوځای کېدو په ساحه کې واقع شوی او دهغه شمال ته د ترکستان بیدیاوې او سویل ته یې د بلوچستان سیمه او په هغه پسې د هند سمندر موقعیت لري چې د همدې موقعیت له کبله په پخوا وختونو کې هند ته د رسیدو یوازینۍ لار بلل کېده(مظلوم یار،۱۳۹۸: ۵۹ ). غرونه د سیندونو د اوبو سرچینې گڼل کیږي چې د گاونډیو هېوادونو د ټیټو برخو په لور یې جریان پیدا کړی. د افغانستان دولت کولی شي چې ددې اوبو څخه د گاونډیو هېوادونو په خارجي سیاست کې د فشار د الې په توگه گټه پورته کړي (رحیمي،۱۳۹۲: ۱۰۷ ).

## ۳.نفوس یا وگړي

په ټولیزه توگه قدرت د نفوسو په بنسټ تکیه لري. د وگړو څرنگوالی او جوړښت د فکري یووالي او د ملي قدرت په ډېرښت کې اغیزمن دی. پرته له شکه د وگړو تعداد د یو هېواد په قدرت پورې اړه لري، که څه هم دغه اړیکه نسبي ده خو هیڅکله په لږو وگړو باندې هېواد قدرتمند کیدلی نشي (اعظمی،۱۳۸۵: ۱۲۹ ).

د افغانستان د وگړو د دقیقې سر شمېرنې په اړه تر اوسه کره معلومات نشته مگر د بعضو سرچینو پر اساس ۴۵/۳ سلنه وگړي د ۱۵ کالو څخه کم، ۲۸/۹ سلنه وگړي، د ۱۵ څخه تر ۳۴ ، ۱۹/۲ سلنه وگړي، تر ۲۰ کلنۍ او ۲/۳ سلنه وگړي بیا د ۲۰ کاله څخه ډېر عمر لري (عظیمي،۱۳۹۱:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹۳-۹۲). د افغانستان په سیاسي ثبات، بیارغونه او د پرمختګ لپاره د پلانونو په تطبیق او عملي کولو کې ددې هېواد ځوان نسل د یوې فعاله انرژي په توګه د اقتصادي پرمختګ لپاره مهم دی (رحیمي، ۱۳۹۲: ۱۱۱-۱۱۲).

## ۴. خام (اومه) مواد او طبیعي زیرمې

د هر هېواد حقیقي او ریښتنی ارزښت د هغې د طبیعي زېرمو ډېروالي، څرنګوالي او د هېواد پورې اړوند شتمني څخه ګڼه اخستنه د هغه هېواد پورې اړه لري (عزتي، ۱۳۹۰: ۹۵). شته طبیعي سرچینې د دولت د قدرت اندازه ټاکي. هر څومره چې د یو دولت طبیعي سرچینې زیاتې وي، د هغه قدرت به هم پیاوړی وي (خوښ، ۱۳۹۲: ۷۵). د پیاوړو ملي او طبیعي سرچینو په لرلو سره شونې ده چې نور دولتونه د اړتیا پر بنسټ د هغه سره وتړل شي او یاد د جګړې په وخت کې د پردیو د یرغلونو مخنیوی، په ښه ډول وکولی شي(داوري، ۱۳۹۷: ۵۲). په اوس وخت کې په افغانستان کې ۲۴ ډوله معدني مواد د هېواد په ۸۹ سیموکې دهېواد د اقتصاد لپاره د ارزښت وړ پیژندل شوي دي (تڼیوال او امین، ۱۳۸۲: ۵۸). افغانستان د طبیعي منابعو (سرچینو) له مخې یو شتمن هېواد ګڼل کیږي. د افغانستان مهمې طبیعي سرچینې د طبیعي ګاز، د ډېرو سکاره، اوسپنه، نفت، مس، یورانیوم، یاقوت، الومنیوم، سرب، پنبه او داسې نور دي (رحیمي، ۱۳۹۲: ۱۱۳-۱۱۴). همدارنګه په یو بل کتاب کې بیا بیریل، کرومایت، لاجورد، مالګه، تالک څخه هم یادونه شوې (تڼیوال و امین، ۱۳۸۲: ۵۸). دودیال بیا په خپل کتاب کې د افغانستان د لاندې طبیعي سرچینو څخه یادونه کړې:

د سون وړ توکي لکه: د ډېرو سکاره، نفت، ګاز، تورف، نسواري رنګه سکاره او سوځېدونکي سلانسونه.

فلزي عناصر لکه: اوسپنه، مس، منګنیز، کرومین، سرب، جست، المونیم، مولبدیم، ویلفرام، قلعې، بیسموت، ارسنیک او رانجه.

ګران بیه عناصر لکه: بریلیوم، لیتیم، سیزیوم، روبیدیم، تاشالیم، نیوبي، کادیوم، یورانیوم او توریوم نجیبه عناصر لکه: سره زر، سپین زر او پلاتین.

غیر فلزي ګټور عناصر لکه: سلفر، فلورایت، باریت، سلتین، فاسفورس او اپاتیت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ارزښتمنې ساختماني او نا ساختماني نافلزي ډبرې لکه: مرمر، ابرک، سوبه لی (تالک)، لاجورد، سرپانتین، غرنی بلور، سلاندې او داسې نور (دودیال، ۱۳۷۹: ۱۲۱-۱۲۲).

افغانستان د امنیت په صورت کې کولی شي خپل قیمتي طبیعي سرچینې د با تجربه، پوه او مسلکي کسانو په درلودلو سره د افغانستان لپاره مثبت اقتصادي لید لوری رامنځ ته کړي (رحیمي، ۱۳۹۲: ۱۱۴). که چېرته پراخه او سرشاره طبیعي زېرمو په راویستلو کې د پوه او مسلکي افرادو څخه گټه پورته نشي، هیڅ کله د پراختیا او پرمختگ عامل نه شمېرل کیږي (عزتي، ۱۳۹۰: ۹۲).

## ۵.موقعیت

جغرافیایي موقعیت او ځانگړتیاوې د ملي قدرت په ټاکلو کې ستره ونډه لري (داوري، ۱۳۹۷: ۵۱). افغانستان د اسیا په سویلي برخه کې پروت دی، چې د ختیزې، مرکزي، سویلي او لویدیزې اسیا هېوادونه یو له بل سره نښلوي. جغرافیایي موقعیت د هر هېواد په بیروني سیاست پورې اړه لري. د جغرافیایي موقعیت او بیروني سیاست ترمنځ اړیکه دومره مهمه ده چې دې موضوع ته په جیوپولیټیکي مطالعاتو کې هم اشاره شوې (کامران او نور، ۱۳۸۹: ۱۱). موقعیت په ریاضیکي (طول او عرض) او هم په نسبي لحاظ (د اوبو څخه لرېوالی او نږدې والی، د یوقوي دولت سره گاونډیتوب یا د همسایګانو څرنګوالی، د کانالونو یا نړیوالو ستراتژیکو تنگیو سره گاونډیتوب) د هېوادونو په ملي قدرت کې د پام وړ ارزښت لري. یاد هر یو موقعیت د هېوادونو په پیاوړي توب او کمزورتیا کې نیمگړتیاوې او ځانگړنې لري (اعظمی، ۱۳۸۵: ۱۳۰). افغانستان په وچه کې د راګېر والي او ازادو اوبو ته د نه لاس رسي له کبله په وچه کې راگېر هېواد شمېرل کیږي (رحیمي، ۱۳۹۲: ۹۸). که څه هم افغانستان په وچه کې راگېر هېواد دی، مگر د خپلو مهمو گاونډیو هېوادونو لکه د مرکزي اسیا او د فارس خلیج هېوادونه چې هلته د نفت او گاز پریمانه دی، افغانستان ته ځانګړی موقعیت وربخښلی دی. افغانستان د مرکزي اسیا په گاونډ کې حساس او ستراتیژیک جغرافیایي کې قرار لري. د یو طرفه د هند دنیمې وچې، د بل طرفه دمنځنۍ اسیا هېوادونو، د چین دخلق جمهوریت سره او دبل طرفه د لویدیزې اسیا او منځني ختیز ترمنځ پروت دی (رحیمي، ۱۳۹۲: ۹۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د جغرافیایي موقعیت له مخې افغانستان د اسیا په منځ کې د یو ځلور لارې بڼه خپله کړې. افغانستان د اسیا د ځلورو مهمو(سویلي اسیا، مرکزي او شمالي اسیا، منځنی ختیز او لري ختیز) سرشارو او د معدني سرچینو ترمنځ قرار لري. افغانستان تر ډېره ددغه سیمو په منځ کې د یو ارتباطي پل حیثیت خپل کړی (بې نا، ۱۳۸۷: ۱۰).

## ۶.پراخوالی

په عمومي توگه زیات پراخوالی د هېوادونو په قدرت کې مثبت اغیز لري (کامران او نور، ۱۳۸۹: ۱۲). پراخولی لوړه هېله ده چې د هغه هېواد د وگړو د ویش سر ههغړې ولري. ځکه که چېرې پراخوالی زیات او نفوس لږ وي، د هغه هېواد د دفاع مسئله د ستونزې سره مخامخ کیږي (عزتی، ۱۳۹۰: ۸۷). پراخه فضا د اقتصادي زېرمو او معدنونو څخه د گټې اخستنې اسانتیا برابروي. په نظامي توگه پراخه فضا ستراتژیک عمق ایجادوي او د هېواد لپاره امنیتي حاشیې رامنځ ته کوي. د یو دولت زیات پراخوالی پدې فکر چې ډول ډول اوبه او هوا او زیاتې طبیعي زېرمې لري، د قدرت عامل گڼل کیږي (کامران او نور، ۱۳۸۹: ۱۲). افغانستان په شمالي نیمه کره کې د ۶۵۲۲۲۵ کیلومتره مربع مساحت په درلودلو د ټولو اروپایي هېوادونو څخه لوی، د اسیایي هېوادونو سره د پرتله کېدنې له مخې لسم او د نړۍ په کچه ځلویښتم هېواد گڼل کیږي (مظلوم یار، ۱۳۹۸: ۴۱). د پراخوالي له مخې افغانستان د خپل گاونډیو او مرکزي اسیا هېوادونو په پنځمه رتبه کې قرار لري. په ټوله کې افغانستان د پراخوالي له مخې منځنی پراخوالی لرونکی هېواد گڼل کیږي (رحیمي، ۱۳۹۲: ۱۰۲).

## ۷.سرحدي کرښې

د یوه هېواد سرحدونه هم د هېواد ملي قدرت باندې مثبت او منفي اغیز لري. هغه هېوادونه چې سمندري پولې لري او سمندرونو چاپیره کړي، ترهغو هېوادونو لږ گواښ سره مخامخ دي چې پولې یې خلاصې دي. د یوه هېواد په پولو کې د طبیعي خنډونو شتون د هغې امنیتي موقعیت ته گټه کوي او د دغه خنډونو نه شتون د پراختیا غوښتونکو کار اسانوي ( ویاړ او بدلون، ۱۳۹۷: ۸۱،۸۰). د زیاتو هېوادونو دملي قدرت په ټاکلو کې پولې، په وچه یا اوبو پورې د هغو تړل مهمه ونډه لري. هغه هېوادونه چې په وچه کې راگېر وي، د قدرت په لاسته راوړلو کې زیات محدودیتونه لري، نشي کولی چې خپلې غړنې او لرې سیمې د مرکزي قدرت لاندې راولي. نوځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جغرافیایي او استراتژیک موقعیت د دولتي قدرت پر پلي کوونکي باندې اغیز شیندي. غوره بېلګه یې افغانستان دی چې د خپل ځانګړي جغرافیایي او ستراتیژیک موقعیت له امله د قدرت پلي کول په کې ستونزمن دي (داوري،۱۳۹۷: ۵۱).

د افغانستان شمالي پولي د اوبیزو پولو له ډلې څخه شمېرل کیږي چې د افغانستان لپاره یې مناسبه امنیتي حاشیه رامنځ ته کړې، اما ختیز، سویلي او سویل لویدیزې پولې چې د تحمیلي کرښو له ډلې څخه ګڼل کیږي، دغه پولې د بشري، فرهنګي او ټولنیزو ښیګڼو پرته د استعمار په واسطه ویستل شوي چې د پولې دواړو غاړو ته یې ستونزې راولاړې کړې دي. د پولو څرنګوالی او دواړو خواو ته میشتې پرګنې د ستونزو پر وخت افغانستان او ګاونډیو هېوادونو ته ستونزه رامنځ ته کوي، اما د منطقه ای همکاري سیاست پر اساس امکان لري دافغانستان او ګاونډیو هېوادونو ترمنځ ګډې پولې د دوستۍ او همکارۍ فضا رامنځ ته کړي (رحیمي،۱۳۹۲: ۱۰۲).

## ۸.اوبه او هوا

اوبه او هوا له مهمو جغرافیایي عواملو څخه دي چې د یو هېواد د قدرت پر څرنګوالي زیاته اغیز لري ( ویاړ او بدلون،۱۳۹۷: ۷۹-۸۰). مناسبه او مطلوبه هوا د یو هېواد په ملي قدرت مثبت اغیز لري. دا اغیز لومړی د غذایي موادو په پرمختګ اودوهم هغه تخریب او ورانکاري چې د اقلیمي ستونزو په پایله کې رامنځ ته کیږي. دریم ملي زېرمې د مصرف اسانتیاوې، د انسانانو دژوند لپاره وړ شرایط رامنځ ته کړي، د لېدو وړ دي ((کامرن او نور،۱۳۸۹: ۱۳). افغانستان د خپل غرنیز جوړښت پر اساس د سیندونو د اوبو اصلي سرچینه ګڼل کیږي. دغه اوبه د شمال اوسویل د ټیټو ځمکو پر لور د هېواد د پولو څخه وځي. د افغانستان د اوبو اصلي شبکې لکه آمو سیند، هلمند، ارغنداب، هریرود او د کابل سیند اوبیزې حوزې دي (رحیمي،۱۳۹۲: ۱۰۹). د افغانستان د سیندونو د اوبو اندازې د جملې څخه دآموسیند په ثانیه کې ۲۰۰۰ متره مکعب، د کونړ سیند په یوه ثانیه کې ۳۷۳ متره مکعب، دهلمند سیند په یوه ثانیه کې ۲۰۰ متره مکعب اوبه لري( دودیال،۱۳۷۹: ۱۳۲). د انرژي او اوبو وزارت د شمېرو له مخې په افغانستان کې د اوبو کلنۍ زیرمې ۵۷ میلیارده مکعبه دی چې ددې جملې ۲۱ متره مکعب یې کارول کیږي او ۳۶ متره مکعب یې ضایع کیږي. په افغانستان کې د ځمکې لاندې زیرمې بیا ۱۸ میلیارده متره مکعبه دي چې درې میلیارده یې کارول کیږي (مظلوم یار،۱۳۹۸: ۴۹). د افغانستان سیندونه چې د هېواد له داخل

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه سرچینه اخلي کولی شي د سمې ګټې اخستنې په صورت کې په هېواد کې د سولې او ثبات د راوستلو لپاره د یوې وسیلې په توګه وکاروي (رحیمي، ۱۳۹۲: ۱۱۰).

**پایله**

ددې علمي څېړنې څخه دې پایلې ته رسیږو چې هغه څه چې په سیمه کې یې افغانستان ته ارزښت ورکړي ددې هېواد د ملي قدرت جغرافیایي عوامل دي. افغانستان د درې مهمو جیوپولیټیکي، اقتصادي او فرهنګي حوزو په منځ کې د ځانګړي جیوپولیټیک، جیو اکونومیک او جیو استراتیژیک ارزښت څخه برخمن دی. دغه جغرافیایي سرچینې د افغانستان د ملي قدرت په اقتصادي او سیاسي برخه کې ځانګړي فرصتونه او ظرفیتونه لري. که چېرته افغانستان یادې سرچینې په سمه توګه مدیریت کړي، د افغانستان د راتلونکې لپاره روښانه او هیله بخښونکي بریښي. ټولو هغه نظرورکونکو چې دملي قدت سرچینې یې ذکر کړي دي، د جغرافیې څخه د ملي قدرت د بستر په توګه یادونه کړې. ځېنې پوهانو، جغرافیایي موقعیت د همغه هېواد لپاره د ملي قدرت اصلي رکن ګڼي. ځینې لږ نور هم مخکې تللي او وایي چې د هر هېواد سیاست د هغه هېواد د جغرافیې په واسطه ټاکل کیږي. د نظرلرونکو او پوهانو په نزد د ملي قدرت لپاره مختلف عوامل ذکر شوي چې د دوی ترمنځ په لاندې جغرافیایي عواملو باندې د نظر یووالی شتون لري:

الف: جغرافیایي موقعیت چې په دې کې ستراتژیکي، جیوپولیټیکي، ارتباطي او اقلیمي موقعیت شامل دي.

ب: پراخوالی، د هېواد شکل، د فضا څرنګوالی، توپوګرافي، ناهمواري.

ج: اوبه، خاوره، د ونو بوټو پوښښ، د ژوند نورې حیاتي او غذایي زېرمې.

د: د ځمکې لاندې زېرمې، انرژي زېرمې، معدني (ستراتژیک او غیر ستراتژیک) زېرمې.

هـ: نفوس او ملت، د هغوی کمي او کیفي څرنګوالی، د بشري قوت پراکندګي.

افغانستان د جغرافیایي عواملو له مخې د قدرت په زیږولو او ملي قدرت کې ځانګړی ځای لري. د افغانستان په ملي قدرت باندې اغیزمن جغرافیایي عوامل د جغرافیایي موقعیت، پراخوالي، د هېواد شکل، سیاسي کرښې، لوړې ژورې (ناهمواري)، د اوبو شبکې، وګړي، طبیعي سرچینې،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولنیز او سیاسي بنسټونه دي چې یا جغرافیایي عواملو له مخې ځینې د افغانستان لپاره مثبت او ځینې منفي رول لري.

## مناقشه

افغانستان د اسیا د زړه په توګه د مناسب جغرافیایي موقعیت، لرغوني تاریخ او د نورو طبیعي شرایطو ترڅنګ مناسب اقلیم، هغه ځانګړنې دي چې د انسانانو د اوسیدو ځای او د بشري علم او فرهنګ مرکزونه یې رامنځ ته کړي دي. په سیمه او په ځانګړي توګه په اسیا کې د افغانستان غوره والی د نورو عواملو ترڅنګ تر ډېره په جغرافیایي عواملو پورې ځانګړی شوی دی چې دا جغرافیایي عوامل د جغرافیایي موقعیت، د هېواد په پراخوالي، د هېواد شکل، سیاسي کرښې، لوړې ژورې (ناهمواري)، د اوبو شبکې، وګړي، طبیعي سرچینې، ټولنیز او سیاسي بنسټونو پورې اړه لري. شته طبیعي سرچینې د دولت د قدرت اندازه ټاکي. هرڅومره چې د یو دولت طبیعي سرچینې زیاتې وي، د هغه هېواد ملي قدرت به هم زیات وي. نور هېوادونه بنایي له هغه سره وتړل شي او له دې مخې، د هغې د نفوذ لاندې راشي.

افغانستان له جغرافیایي اړخه په سیمه کې ځانګړی ارزښت لری. افغانستان د منځنۍ آسیا، منځنۍ ختیځ او د سویلي آسیا تر منځ د پل حیثیت لری او د سیمې د لویو او نویو اقتصادونو (هندوستان او چین) لپاره نړیوالو بازارونو ته د لارې په توګه ارزښت لری. په سیمه کې د تاریخ په اوږدو کې د اسې مدنیت نه و او نشته چې پرته د افغانستان له ګډون څخه رامنځته شوی وي. افغانستان اوس د خپلو کانونو، د اوبو زېرمو او لویو لارو لپاره د بل هر وخت په پرتله یوه سنجول شوې ستراتیژي جوړه کړی ده. په وچه کې د ایسار والي، لویې ستونزی ته د حل یوه بڼه او ګټوره طرح د وچې پنځه بندورنه دي، چې د مرکزي آسیا او سویلي آسیا هېوادونو یې هرکلی کړی دی. له نن څخه تقریباً دوه زره کاله مخکې له همدې مسیر څخه د وریښمو لویه او مشهوره سوداګریزه لار تیریده چې افغانستان یې د تګلوري یوه برخه وه. هغه مهال افغانستان د بیلابیلو تاریخي تمدنونو د وصل نقطه او د لویو کاروان سرایونو، پرمختللي صنعت او غوړېدلي فرهنګ لرونکی هېواد و. د دغې لارې په فعاله کېدو سره د هېوادونو سوداګري او اقتصاد کې ژور مثبت بدلون، د سیاسی او فرهنګي اړیکو تقویه کیدل رامنځ ته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماخذونه


۱. احمدزی،محمد سرور. (۱۳۹۹). افغانستان او سیمه ییزه همکاري فرصتونه او ستونزې. کابل: اکسوس کتاب پلورنځی.

۲. بصیرت، ع.نبي.(۱۳۹۴). د سیاسي افکارو تاریخ. جلال اباد:سلام خپرندویه ټولنه.

۳. بی‌نا ، (۱۳۸۷). استراتیژی همکاری‌های منطقه‌ای- ۱۳۷۸-۱۳۹۲، کابل: دارالانشای استراتیژی انکشاف ملی افغانستان .

۴. تڼیوال،محمدظریف و آمین،حمیدالله(۱۳۸۲). جغرافیای اقتصادی افغانستان. پیښور: ختیز بیا رغونې اداره (کور).

۵. داوري،فرهاد.(۱۳۹۷). سیاست پوهنه.کندهار:عرفان خپرندویه ټولنه.

۶. دودیال،محمدبشیر.(۱۳۷۹). دافغانستان د طبیعي سرچینو زېرمې. جرمني: د افغانستان د کلتوري ودې ټولنه.

۷. رحیمي،سردار محمد.(۱۳۹۲).افغانستان ژئوپلیتیک در قرن بیستم.کابل: موسسه نشر واژه.

۸. رضایی،علیرضا و صارمی، محمدرضا.(۱۳۹۰). تحول مفهوم قدرت در نظریه های روابط بین الملل.

۹. روښندل،جلیل.(۱۳۹۷). ملي امنیت او نړیوال نظام.ژباړن: ویاړ،احمدشاه او بدلون،عزت. سوله خپرندویه ټولنه.

۱۰. کاظمي، علي اصغر، ۱۳۸۲: نقش قدرت در جامعه و روابط بین الملل، تهران، نشر قومس.

۱۱. زرقانی،سیدهادی.(۱۳۸۸).مقدمه بر قدرت ملی.ایران: پژوهشکده مطالعات راهبردی.

۱۲. زرقانی،سیدهادی.(۱۳۹۱). سنجش و رتبه بندی قدرت ملی کشورها در جهان اسلام. مطالعات جهان اسلام، سال اول،شماره دوم،تابستان

۱۳. طاهری،ابراهیم.(۱۳۹۵). بر رسی ظرفیت ها و چالش های هند برای تبدیل شدن به یک قدرت بزرگ بارویکرد آینده پژوهی.فصلنامه تحقیقات سیاسی بین المللی،شماره بیست و نهم،زمستان،صص ۱۵۹-۱۸۸

۱۴. عالم، عبدالرحمن.( ۱۳۹۲). سیاستپوهنه.ژباړن: خوښ، محمدنواب.کابل: مستقبل خپرندویه ټولنه.

(c) ketabton.com: The Digital Library




۱۵. عزتی،عزت الله(۱۳۹۰).ژئوپلیتیک.تهران: سازمان مطالعه و تدوین کتب علوم انسانی دانشگاهها (سمت) مرکز تحقیق و توسعه علوم انسانی.

۱۶. عظیمي، محمدعظیم.(۱۳۹۱).جغرافیای انسانی افغانستان.تهران: علم و دانش خراسان.

۱۷. کامران،حسن او نور.(۱۳۸۹). جغرافیا و قدرت ملي ایران. نشریه تحقیقات کاربردی علوم جغرافیایی. جلد ۱۳. شماره ۱۶.بهار.

۱۸. کاویانی راد ، مراد و بویه ،چمران.(۱۳۹۱). جایگاه مفهوم فضای حیاتی در شکل گیری سیاست خارجی عراق. فصلنامه ژئوپولیتیک ـ سال هشتم، شماره اول بهار.

۱۹. مایل افشار،فرحناز.(۱۳۹۱). بر رسی تاثیر جایگاه ژئوپلیتیک و ژئواکونومی در مولفه های قدرت ملی ایران.فصلنامه ره نامه سیاستگذاری، سال سوم، شماره اول، بهار

۲۰. مظلومیار،فیاض گل.(۱۳۹۸). د افغانستان سیاسي جغرافیه.جلال اباد: سلام خپرندویه ټولنه

۲۱. زرقاني،سیدهادی.(۱۳۸۹).نقد و تحلیل مدل های سنجش قدرت ملی. فصلنامه ژئوپلیتیک ـ سال هشتم، شماره اول ،بهار صص ۱۴۹ـ۱۸۰

۲۲. حیدری، غلامحسن و حیدری بنی،زهره.(۱۳۹۳). بر رسی چالش های قدرت ملی در ایران با تاکید بر بحران هویت ملی.فصلنامه ژئوپلیتیک ـ سال دهم،شمارهاول،بهارصص ۲۰ـ۸۲

۲۳. اعظمی،هادی.(۱۳۸۵). وزن ژئوپلیتیکي و نظام قدرت منطقه ای (بر رسی موردی: سویل غرب آسیا ). فصلنامه ژئوپلیتیک ـ سال دوم،شماره سوم و چهارم، پاییز و زمستان صص ۱۱۹ـ۱۵۴

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**